# يقالُ لصاحبِ القرآن: اقرَأ وارتَقِ، ورتِّل كما كُنْتَ ترتِّل في الدُنيا، فإن منزِلَكَ عندَ آخرِ آية تقرؤها». «د قرآن ښتن - حافظ، لوستونکي او پرې عمل کوونکي - ته به وويل شي: لوله، او پورته خېژه، يقينا چې ستا مقام د وروستني آيت سره دی چې ته به يې لولې

له عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روايت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «يقالُ لصاحبِ القرآن: اقرَأ وارتَقِ، ورتِّل كما كُنْتَ ترتِّل في الدُنيا، فإن منزِلَكَ عندَ آخرِ آية تقرؤها». «د قرآن ښتن - حافظ، لوستونکي او پرې عمل کوونکي - ته به وويل شي: لوله، او پورته خېژه، يقينا چې ستا مقام د وروستني آيت سره دی چې ته به يې لولې».

[حسن] [ابوداود روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې کله د قرآن لوستونکی- قاري؛ چې په قرآن يې عمل کړی وي، په تلاوت او حفظ سره يې د قرآن ملګرتيا کړې وي - جنت ته داخل شي نو ورته به وويل شي چې: قرآن لوله او په لوستلو يې د جنت په درجو کې پورته خېژه، او داسې په غور او ډاډ سره يې لوله لکه څنګه دې چې په دنيا کې په غور او ډاډ سره لوسته، يقينا چې ستاسو مقام او ځای وروستني آيت سره دی چې ته يې لولې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65054